
2 017550 139621

کتاب
۴ مخ

## ځان مه تباه کوه




لیکوال لوستونکی ننګوي، پېغور ورکوي، عملاً یې له پېښنو سره مخ کوي او له ستونزو سره د مبارزې لار ورته روښانه کوي. په کتاب کې د ستونزو د حل لپاره یوازینۍ لار عزم او کلکه اراده بلل شوې ده او د عملي بېلګو په ورکولو سره یې ثابته کړې هم ده.

## د هېواد په ۱۳ ولایتونو کې د اوبو ۵۸ کوچني بندونه جوړېږي



د هېواد په ۱۳ ولایتونو کې د ۲۲۷ میلیونو افغانیو په لګښت، ۵۸ د اوبو کوچني بندونه جوړېږي او د هرات په انجیل کې د سیند غاړو پر استحکامي دېوالونو هم نهه میلیونه افغانۍ لګول کېږي. د دغو پروژو تړونونه پرون په کابل کې د اوبو او برېښنا وزارت د سرپرست وزیر محمدګل خُلمي او خصوصي شرکتونو د چارواکو ترمنځ لاسلیک شول.
محمدګل خُلمي وویل چې یاد بندونه د اوبو مهارولو، د سېلابونو د مخنیوي او د کرنیزو ځمکو خړوبولو په موخه جوړېږي.
د نوموړي په خبره، له دغو کوچنیو بندونو لس په کاپیسا، اووه په بدخشان، شپږ په غور، شپږ په پروان، پنځه په میدان وردګو، څلور په بلخ، څلور په بامیانو او درې درې په پکتیا، نورستان، سمنګان او لغمان کې او دوه دوه په تخار او خوست ولایتونو کې جوړېږي. نوموړي زیاته کړې چې د دغو بندونو په جوړېدو سره به چې ۲۷۷ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي، په یادو ولایتونو کې شاوخوا شل زره هکتاره ځمکه خړوبه شي.

## نبیل: سازمان دهنده‌گان ده درصد تقلب در انتخابات باید محاکمه شوند



رحمت الله نبیل، از نامزدان انتخابات ریاست‌جمهوری می‌گوید، آن تیم های انتخاباتی که در انتخابات بیشتر از ده درصد تقلب انجام داده باشد، باید به نهادهای عدلی وقضایی معرفی شوند و به جرم خیانت ملی محاکمه شوند.
آقای نبیل در یادداشتی در صفحه تویترش بی آن‌که از هیچ تیم انتخاباتی نام نبرده است، اما نوشته است، دسته‌هایی که عامل این تقلب‌های سازمان‌یافته هستند، از امکانات دولتی به سود خودشان بهره برداری کرده اند.
در همین حال کمیسیون مستقل رسیدگی به شکایت‌های انتخاباتی می گوید که در پایان بررسی شکایت‌های انتخاباتی تقلب کاران به نهادهای عدلی و قضایی معرفی خواهند شد.
نبیل در این یادداشت نوشته است: «ستاد انتخاباتی هر تیمی‌که بیشتر از ۱۰٪ تقلب به‌نفع تیم‌شان صورت گرفته باشد، باید این نوع تقلب را تقلب‌سازمان یافته محسوب کرد و همه شانرا باید به جرم خیانت‌ملی، نقض قانون‌اساسی و ارزش‌های‌ملی محاکمه کرد».
نبیل با آن‌که از هیچ تیم انتخاباتی نامی نبرده است، اما نوشته است که عاملان این تقلب های سازمان یافته از تمامی امکانات دولتی به سود خود استفاده کرده اند.
احمد زبیر حبیب زاده، سخنگوی بنیاد انتخابات شفاف گفت: «هر نوع بی توجه‌یی نسبت به آرای مردم و نسبت به این که توجه نشود، به آرای تقلبی و کسانی‌که تقلب کرده اند، می تواند پروسه را خدشه دار بسازد و یک نوع انحراف را در پذیرش نتیجه انتخابات به بار بیاورد».

مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لړم اتمه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۳۰مه | ٤٥٤مه ګڼه

# د حکومت د سولې طرحه؛

## محب: د امریکا او طالبانو هوکړه افغان جګړه پای ته نه شي رسولی




۳

د سولې نوې حکومتي طرحه
۲ مخ

که سوله ونه شوه؛ افغانستان به د یوې بلې ناپایه جګړې ښکار شي
۲ مخ

ملا برادر؛ د پاکستان له زندانه د پاکستان تر پلازمېنې
۵ مخ


## د ناټو ملکي استازی: افغانان د ملي یووالي حکومت تکرار نه غواړي

په افغانستان کې د ناټو ملکي استازي نېکولاس کې ویلي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون باید د ټاکنو په پروسه د خلکو د باور ساتلو لپاره د ولسمشرۍ ټاکنو پایلې په شفاف ډول اعلان کړي. هغه له ازادي راډیو سره په یوه مرکه کې ویلي، افغانان دا ځل نه غواړي چې په ټاکنو کې د ۲۰۱۴ ز کال تجربې تکرار او یوڅوک دې له بهره راشي او د افغانستان د ټاکنیز مشکل په حل کې دې مرسته وکړي.
نوموړي ویلي، داخل هېڅ افغان هم نه غواړي چې د ملي یووالي حکومت رامنځته شي.
هغه دغه راز زیاته کړې: «ما هېڅ افغان نه دی لیدلی چې د تېرو ټاکنو او یاهم د ملي یووالي حکومت د تکرار غوښتونکی وي. له افغانانو سره چې ما خبرې کړې، هغوی غواړي دا ځل د ټاکنو پایلې واضح او د یوه نوماند د ښکاره برۍ شاهدان وي او ما هېڅ افغان نه دی لیدلی چې د داسې وضعیت غوښتونکی وي چې یو څوک دې له بهره راشي او د افغانستان د کورني سیاسي مشکل په حل کې دې مرسته وکړي، هیله چې دا ځل د ټاکنو پایلې معتبرې وي».
د ناټو ملکي استازي زیاته کړې، سره له دې چې په دوحه کې د امریکا او طالبانو ترمنځ په مهمو مسایلو خبرې شوې، خو وایي چې دې ډلې لاهم د القاعده په ګډون له نورو ترهګرو ډلو سره اړیکې نه دي پرې کړې.
نوموړي ویلي، د سیمې ټول هېوادونه د سولې پروسې په برخه کې مرسته کولای شي، خو په خبره یې چې یوازې بین الافغاني مذاکرات دي چې کولای شي روان کړکېچ حل کړي.

## خلیلزاد د سولې خبرو د بیا پیل لپاره د پاکستان له لومړي وزیر سره کتلي دي



۵ مخ



Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریځ

### د سولې نوې حکومتي طرحه

د ملي یووالي حکومت د سولې لپاره د یوې نوې طرحې خبرې کوي. حکومتي چارواکي وایي چې د سولې په دې نوې طرحه کې به خبرې له امریکا او ناټو سره پیلېږي او پر پاکستان او طالبانو به ختمېږي. د اشرف غني د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب پرون په دې تړاو په یوه خبرې غونډه کې وویل، که دا طرحه عملي شي، نو افغانان به د ده په خبره، د یوې باعزته سولې خاوندان شي. محب ویلي چې د نوې طرحې پر اساس د سولې د خبرو تر پیل وړاندې باید طالبان اوربند ومني.

حکومت په داسې حال کې له طالبانو سره د سولې د نوې طرحې خبرې کوي، چې امریکایي چارواکي له طالبانو سره د پرې شوو خبرو د بیا پیل هڅې کوي. تازه خلیلزاد د سولې خبرو د بیا ځل پیلېدو هڅې شروع کړې، چې پر اساس یې تر کابله هم راغی. د حکومت طرحه هم له همدې هڅو وروسته دا ښکاره شوې ده. داسې ښکاري چې حکومت غواړي وښیي چې دوی هم د سولې لپاره هڅې کوي او په دې اړه پلانونه او طرحې لري. تر دې ور هاخوا، په دې طرحه راوړل شوي مسایل او بحثونه داسې نه دي چې له سولې سره کومه مرسته وکړي. پرون چې کله حمدالله محب هم په دې تړاو خبرې کولې، خبرې یې له ګواښونو او تورونو ډکې وې. د طرحې په تړاو را ښکاره شوي معلومات هم ښیي چې دا طرحه نه یوازې دا چې له سولې سره کومه مرسته نه کوي، بلکې خنډونه جوړوي.

لومړی خو اساسي پوښتنه دا ده چې طرحه د ټول حکومت ده، که یوازې د ولسمشر او د هغه د ملګرو؟ دویم دا چې ټاکنې شوې او معلومه نه ده چې واک به له چا سره وي، نو په دې وخت کې د سولې د نوې طرحې وړاندې کول څه مانا لري!؟

په طرحه کې ځینې مسایل له سولې سره هېڅ اړیکه نه لري او د حکومت عادي مکلفیتونه او دندې دي. ځینې مسایل پکې د حکومت له توان او صلاحیته لوړ دي او ځینې پکې د سولې پر وړاندې واضح خنډونه دي. له همدې امله دا طرحه له سولې سره کومه مرسته نه کوي.

د بېلګې په ډول، په طرحه کې ویل شوي چې حکومت به له ناټو او امریکا سره خبرې پیلوي، نو حکومت خو له ناټو او امریکا سره تړونونه لري او هره ورځ خبرې کوي، اوس به په دې خبرو کې څه بدلېږي؟ دغه راز له فساد سره مبارزه او ښه حکومتولي د حکومت دنده او مکلفیت دی، نو ولې یې د سولې په طرحه کې یادونه شوې؟ د طالب او پاکستان د اړیکو تعریف هم یوه داسې چاره ده چې کله به هم حل نه شي، نو ځکه دا طرحه یوازې ستونزې زیاتوي. حکومت ته پکار ده چې د رښتینې سولې لپاره هڅې وکړي. له داسې خبرو او طرحو څخه دې ډډه وکړي، چې ستونزې زیاتوي. د غیر عملي طرحې یا بلې وسیلې پر مټ د سولې په لاره کې خنډونه جوړول له خلکو سره ظلم دی او خلک پر دې هر څه ښه پوهېږي.

# که سوله ونه شوه؛ افغانستان به د یوې بلې ناپایه جګړې ښکار شي

لیکنه: شفیع اعظم

یوویشتمه پېړۍ د نولسمې او شملې پېړۍ په پرتله، په ډېر چټک ډول د بدلون په حال کې ده. د افغانستان په ګاونډ، سیمه او نړۍ کې حالات ورځ تر بلې په ډېر شدت سره بدلېدونکي دي. د افغانستان تېر تاریخ او تجربو ته په کتو، له بده مرغه تل د زبرځواکونو د سیاستونو او زورزیاتي قرباني شوی دی. د دغه موقعیت په اړه علامه اقبال وایي:

"د افغانستان راتلونکی راته ښه نه ښکاري، ځکه هغه هېواد چې د دوو سترو قدرتونو منځ کې وي، کله یې هم ښه ورځ نه ده لیدلې". لکه سوریه چې د رومي او فارسي امپراتوریو ترمنځ وه او افغانستان بیا تر ننه د زورورو د اختلاف بیه پرې کوي.

په نولسمه پېړۍ کې د وخت لویو ځواکونو (انګریز او روسانو) د زور ازمایي قرباني، په شلمه پېړۍ کې د وارسا، ناټو او امریکا په سړه جګړه کې پایمال او په ادامه یې د ګاونډیو، سیمې او نړیوالو قدرتونو د نیابتي جګړو او سیالیو ډګر، په یوویشتمه پېړۍ کې بیا د تروریزم خلاف د نړیوالې جګړې اصلي قرباني او اوس که وضعیت د افغانانو له لوري مدیریت نه شي؛ نو داسې ښکاري چې داخل به افغانستان د چین او امریکا تر منځ د یوې نوې اقتصادي جګړې کوربه وي. همدا اوس چې دا مطلب لیکل کېږي مور په نړیواله کچه د (Trade War) په نوم د امریکا او چین د اقتصادي جګړې شاهدان یو. د چین اقتصادي عروج یوې انکار نه منونکې مرحلې ته رسېدلی او امریکا چې ځان د نړۍ سیاسي او اقتصادي ځواک ګڼي، مقابلې ته یې متې بډوهلې دي. د امریکا جمهور رییس ډونالډ ټرمپ، د دفاع وزیرانو جیمز متیس او مایک ایسپر په کراتو ویلي چې د "اوس لپاره د امریکا ګټو ته ستر ګواښ تروریزم نه، بلکه د روسیې بیاځلي پورته کېدل او د چین توپاني اقتصاد دی، چې د امریکا ټول مارکېټونه یې د خپلو سوداګریزو توکو پر مټ فتحه کړل".

چین د خپل اقتصادي ځواک غځېدا او تداوم لپاره د لارې – کمربند ابتکار (Belt & Road Initiative (BRI په نوم یوه نړیوال شهکار ته مخه کړه، چې د شپږو اقتصادي دهلیزونو پر مټ به چین د ځمکې او سمندر له لارې د سړک، ریل پټلۍ، پایپ لاین، نوري فایبر او نورو وسایلو له لارې مرکزي اسیا، جنوبي اسیا، غربي اسیا، منځنۍ ختیځ، افریقا او اروپا سره په نویو او لنډو لارو وصل شي.

د چین جمهور رییس شي جي پینګ په ۲۰۱۳ ز کال کې رسماً دغه د سوداګرۍ او کلتورونو د تبادلې سیمه ییز او قاره ایز ابتکار د لار – کمربند ابتکار (Belt and Road Initiative) په نوم اعلان او عملاً یې د دغه هدف د بشپړېدو لپاره سیمه ییزې او نړیوالې هڅې پیل کړې. د چین دغه نړیواله پراختیایي ستراتیژیک هوکړه لیک د افغانستان په ګډون، ۱۲۳ هېوادونو او ۲۹ نړیوالو سازمانونو لاسلیک کړ، څو په ګډه په اسیا، منځنۍ ختیځ، افریقا او اروپا کې د زیربنا او پانګونې په برخه کې وړې او غټې پروژې ولري. د چین لار – کمربند ابتکار (BRI) تر پورته ذکر شویو هېوادونو او سازمانونو نه منحصرېږي او په پرله پسې ډول هڅې روانې دي، څو پاتې هېوادونه او سازمانونه هم په یوه نه یوه ډول د دغه ابتکار برخه وګرځي. د ځینو اټکلونو پر بنسټ، د لار – کمربند ابتکار د نړۍ په کچه یو له سترو زیربنایي پروژو څخه شمېرل کېږي، چې اوسمهال څه باندې ۶۸ هېوادونه او د نړۍ څه باندې ۴.۴ ملیارده وګړي یا ۶۵ سلنه نفوس او د نړۍ څه باندې ۴۰ سلنه کورني ناخالص عواید به په ځان کې را ونغاړي.

د شنونکو په باور، د دغه ابتکار پر مټ چین غواړي خپلو توکو ته نوي مارکېټونه، اروپا ته لنډ لاسرسی او ټولې لویې وچې به په یوه نوي چینایي میکانېزم او سټنډرډونو کې داسې را ونغاړي، چې د شبکې ټول کنټرول به د چین په لاس او تر ډېره به امریکایي هژموني خپل ځای چینایي هغې ته پرېږدي.

افغانستان له چین سره دې نږدې ۷۶ کیلومترو ګډې پولې په درلودلو سره هغه نښتی ګاونډی دی، چې تر اوسه د چینایي ابتکار په دغه حلقه کې محروم ښکاري.

د افغانستان شاوخوا ټول ګاونډیان په مستقیمه توګه د لار – کمربند ابتکار فعال غړي دي او تر دغه چتر لاندې په یادو هېوادونو کې د ملیاردونو ډالرو په ارزښت زیربنایي، ټرانسپورټ، د انرژۍ تولید، صنعتي پارکونه، لسګونه نورې لویې او منځنۍ پروژې تر کار لاندې دي. د افغانستان شاوخوا د Belt & Road Initiative دوه کمربندونه تیر شوي، چې یو یې (CPEC) او بل یې (CCAWAEC) دی.

د افغانستان په ختیځ او جنوب کې "لار – کمربند ابتکار" سره پاکستان د China – Pakistan Economic Corridor یا سیپک له لارې وصل شوی او همدا راز د افغانستان په شمال او لوېدیځ کې یې "چین – مرکزي اسیا، لوېدیځې اسیا اقتصادي دهلیز" (China – Central Asia,) (West Asia Economic Corridor غځېدلی چې پر مټ یې تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او ایران د دغه سیمه ییز ستر ابتکار برخه ګرځېدلي. پورته شکل د BRI ځمکني او سمندري مسیرونه ښیي، چې د افغانستان له شاوخوا ګاونډیو هېوادونو څخه تېر شوي، خو افغانستان ترې تر اوسه محروم ښکاري.

د دې باوجود چې افغانستان د خپل ستراتیژیک موقعیت په لحاظ د دغه ابتکار لپاره په امنیتي او اقتصادي لحاظ یو تر ټولو مهم هېواد دی؛ خو دوه عمده دلایل دي چې لا هم د دغه ابتکار عملي برخه نه دی ګرځېدلی. خراب امنیتي وضعیت او دوامداره بې ثباتي

د لارې – کمربند ابتکار په عملي غړي کېدو سره به افغانستان په اتومات ډول د سیمې پر څلور لارې بدل شي، چې جنوبي اسیا به له مرکزي اسیا او ختیځ او جنوب ختیځې اسیا ډېر هېوادونه به د افغانستان له لارې له مرکزي اسیا او جنوبي اسیا هېوادونو سره د وصلېدو لنډه لار ومومي. د دغه اتصال او عملي کېدو لپار به په افغانستان کې د BRI تر چتر لاندې د سړک او ریل پټلۍ غځېدو په موخه ملیاردونو ډالرو په ارزښت سترې پروژې پلې شي. همدا راز افغانستان د انرژۍ په بډایو او د تږو هېوادونو په منځ کې پروت واحد هېواد دی، چې په لنډه لار به یې د نفتو، ګازو پایپ لاینونه او له مرکزي اسیا څخه مخ په جنوبي اسیا په پراخه کچه د برېښنا مزي او نوري فایبر شبکې وغځېږي، چې یوازې ټرانزیټي فیس یا حق العبور له درکه به یې افغانستان هر کال ملیاردونه ډالر عواید ولري.

خو د دغو ټولو پروژو انتقال یوه قوي مرکزي نظام او دایمي سولې او ثبات ته اړتیا لري، چې له بده مرغه افغانستان ترې محروم دی. د میلیونونو ډالرو په ارزښت پر توکو بار لارۍ، اور ګاډي، پایپ لاینونه، برېښنایي مزي او نور کاروبارونه یوازې په مصؤن چاپېریال کې د تبادلې او انتقال وړ دي. له تېرو څلوېښتو کلونو په پرله پسې توګه افغانستان د سیمه ییزو او داخلي کشمکش قرباني و او له بل لوري اوس هم په یوه ناپایه او د امریکایي متخصصینو په باور نه ګټونکې جګړې کې ښکېل دی، چې دا ټول د دې سبب شول چې لار – کمربند ابتکار دوه لوی کمربندونه او دهلیزونه د افغانستان له جغرافیې بهر په نورو ګاونډیو هېوادونو کې طراحي او عملي شي.

له امریکا او هند سره د افغانستان ستراتیژیکه ملګرتیا

پر امنیتي تهدیداتو او اوږدمهاله بې ثباتۍ سربېره، دویم عمده لامل د افغان حکومت ستراتیژیکه ملګرتیا له امریکا او هند سره هغه څه دي، چې چین زړه نه ښه کوي، افغانستان د دغه ټرلیون ډالري ابتکار برخه شي. BRI هغه ابتکار و چې له اعلان سره یې په ټوله نړۍ کې پراخ مثبت غبرګونونه را وپارېدل، خو امریکا او هند هغه دوه هېوادونه وو چې په تقابل کې یې ودرېدل او جاپان او اسټرالیا بیا په دغه ابتکار کې د ګډون پر ځای د هغې نرم مخالفت وکړ.

امریکا او هند دغه ابتکار ته په ډېره بدبینانه سترګه ګوري او دا د اقتصادي ودې او سیمه ییزې همکارۍ په نوم د چین لخوا یو سیاسي دام بولي، چې پر مټ یې سیمه او نړۍ کې د خپل سیاسي نفوذ پراخېدو هڅه کوي. امریکا دغه ابتکار ته د قرضوي دام، عدم شفافیت، چاپېریال تخریبونکې برنامې او د ملتونو د زبېښلو یوې هڅې نوم ورکوي.

"امریکا په لویه کې د BRI جیوپولیټکل وضعیت ته اندېښمنه ده. امریکا وېنې چې چین د اقتصادي برنامو په نوم اوراسیا سیمه تر خپل نفوذ لاندې راولي او هڅه کوي چې له دغې لارې تر چین د باندې خپل نظامي حضور پراختیا ته زمینه سازي وکړي او دا تلاش په داسې شکل کوي چې امریکا حاشیې ته ټېل وهي. امریکایي مبصرین پر دې باور دي چې لار – کمربند ابتکار د ځوابونو او وضاحتونو پر ځای بیخي ډېرې لاینحل پوښتنې له ځان سره لري".

هند له چین او پاکستان سره له ډېره وخته پر خاوره او اقتصادي مسایلو اوږدمهاله شخړې لري. هند فکر کوي چې د BRI ابتکار به د چین او پاکستان پر اقتصادي ځواک تمام شي او دا د خپلو حریفانو سیاسي او اقتصادي برلاسی ګڼي. هند په ټول قوت د هغې د مخالفت او تخریب په لټه کې دی، چې لومړی یې د BRI ناکامولو لپاره نریندرا مودي په ۲۰۱۴ ز کال کې د موسم (Mousum) په نوم عین سیمه ییز ابتکار پیل کړ، چې د پلان له مخې به د جنوبي اسیا، سوېل ختیځې اسیا، افریقا او هند سمندر ته څېرمه نور نږدې ۳۹ هېوادونه په خپله مشرۍ راټول کړي، خو هند د BRI خلاف د دغې برنامې به تطبیق کې پاتې راغی. لار – کمربند ابتکار سره د مخالفتونو په دغې لړۍ کې د ۲۰۱۹ ز کال په سپټمبر کې د هند د بهرنیو چارو وزارت چین او پاکستان ته په PoK یا لانجمن کشمیر کې د ریل پټلۍ او نورو تاسیساتو په جوړولو کې خبرداری ورکول یو له دغو هڅو بلل کېږي.

افغانستان د ناکامۍ او بریا واحده کیلي

افغانستان له چین سره پر ګاونډیتوب سربېره، په داسې نقطه کې قرار لري چې د دغه چینایي ابتکار دوه قوي شاه رګونه یې په څنګ او ګاونډ کې غځېدلي. ګډون یې کولای شي د لارې په لنډولو سره هر کال چین، اروپا او نورو غړو هېوادونو ته په سوداګریزو راکړو ورکړو کې میلیاردونه ډالر بچت کړي او امنیتي تهدید یې بیا په مطلق ډول د دغه ابتکار په نطفه کې د خنثی کېدو مانا ورکوي.

یوویشتمه پېړۍ د اسیا د عروج پیل یادېږي او د کارپوهانو په باور، د اسیا وروسته پاتې والی درې عمده عوامل لري چې دوی یې درې شیطانان (Three Evils) بولي او هغه عبارت دي له:

تروریزم (Terrorism)

بېلتونپالنه (Separatism)

افراطیت (Extremism)

له بده مرغه د افغانستان څلوېښت کلنه جګړه د دې لامل شوې، چې دغو د دریو ډلو لپاره د ودې او فعالیت مناسب بستر و اوسي. دا بلقوه تهدید که دلته په سوله او ثبات خنثی نه شي، نو دا کولای شي پر افغانستان سربېره چین، سیمې او ټولې نړۍ ته پر ستر ګواښ بدل شي.

افغانستان جیوستراتیژیک موقعیت ترننه د افغانانو د ناسم او ضعیف مدیریت له امله د نړیوالو زبرځواکونو، سیمه ییزو او ګاونډیو هېوادونو د نیابتي جګړو پر مرکز بدل کړی. که دا ځل عاقلانه تصمیم ونیول شي، نو دا موقعیت برعکس ګاونډیو، سیمې او نړیوالو ځواکونو ته دا فرصت برابروي چې د اقتصادي منابعو او خدماتو پر یوه ستر ټرانزیټي مرکز بدل شي، چې بیا به ټول د خپلو ګټو او اقتصادي پانګونو خوندیتوب لپاره په افغانستان کې د امن او ثبات غوښتونکي وي.

اوس افغانستان او افغانان د تصمیم نیونې په یوه ستر تاریخي ازمېښت کې قرار لري. دا د دوی پر سیاسي ځیرکتیا پورې اړه لري، چې د سولې او ثبات راوستلو په پار غواړي د سیمه ییز اتصال (Regional Connectivity) پر لوري ولاړ شي او که برعکس دلته د تروریزم، اکسټریمیزم او لسو نورو ډراماټیکو نومونو په نوم د اوږدو کلونو لپاره په افغانستان کې د جګړې د تداوم ټیکه اخلي او د ناامنۍ پر مرکز بدلېدو سره د یوې بلې ناپایه جګړې پر مرکز بدلېږي.

افغانستان د موجوده داخلي، سیمه ییزو او نړیوالو کشمکشونو ته په کتو، د بزکشۍ هغه اوزګوړي ته پاتېږي چې له هر لوري سره په مطلق ودرېدو سره به یې بیه؛ نه جبرانېدونکې وي. اوس یې وخت دی چې افغانان په ډېر مهارت له دغه ګرم طرفي سنګر نه د بیطرفۍ موقف په نیولو سره، لومړی افغانستان ته امن او بیا په سیمه کې روانو مخالفتونو او تضادونو ته په کتو، وضعیت داسې مدیریت کړي چې ځپېړې خوړو پر ځای له موجوده منابعو د زیربنا پر رغښت او اقتصادي وده کې کار واخلي.

# ملا برادر؛ د پاکستان له زندانه د پاکستان تر پلازمېنې

لیکوال: شمیم شاهد-پېښور مېشت خبریال / ژباړن: انیس الرحمن

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر دوولس کسیز پلاوی د ملا عبدالغني برادر په مشرۍ د اکتوبر په ۱۱مه د پاکستان پلازمېنې اسلام آباد ته ورسېد.

ملا عبدالغني برادر اته کاله د پاکستان په زندان کې تېر کړل، خو د ۲۰۱۸ ز کال د اکتوبر په ۲۴مه له بنده خوشې شو.

دا چې په زندان کې له ملا عبدالغني برادر سره څه ډول چلند شوی، دا به ملا برادر ته ښه معلوم وي؛ خو ځینې معلومات وایي چې ملا عبدالغني برادر په زندان کې پر څو ډوله ناروغیو اخته و چې له خلاصون وروسته یې د کراچۍ په یوه روغتون کې درملنه وشوه.

ملا عبدالغني برادر د افغانستان د اروزګان ولایت اوسېدونکی دی، برادر ۵۱ کاله عمر لري او په ۱۹۶۸ ز کال کې زېږېدلی دی. نوموړي د تحصیل په وخت کې د روس خلاف جهاد هم کړی دی.

د جنګونو په وخت کې ملا برادر له خپلې کورنۍ سره کویټې ته لاړ او د کچلاک په سیمه کې مېشت شو، چې تر ډېره وخته پورې په همدې سیمه کې اوسېده.

په جهادي ډلو کې د مولوي محمد نبي محمدي اسلامي حرکت سره یو ځای شو چې د طالبانو لومړنی رهبر ملا محمد عمر اخوند هم د همدغه ګروپ غړی و.

له همدې ډلې یوه بله ډله چې طالبان یادېږي وزیرېده چې ملا عمر، ملا برادر او د حامد کرزي نږدې خپلوان ملا عبیدالله یې مهم غړي وو، خو ملا عبیدالله د پاکستان په زندان کې څو کاله مخکې ومړ.

ملا عبدالغني برادر هم د ملا عمر په شان خپل درس ختم نه کړی شو او په جنګي محاذ حزب کې بوخت شو.

ملا عبدالغني برادر د طالبانو په ډله کې د یوه هوښیار او زیرک رهبر په نوم یادېږي، چې له پښتو او درې پرته په عربي، اردو او انګریزي ژبه هم رواني خبرې کولی شي.

د ۱۹۹۴ ز کال په اکتوبر کې د افغانستان د اسلامي امارت په نوم یوه ډله جوړه شوه، چې مشري یې د ملا محمد عمر اخوند او مرستیالي یې د ملا عبدالغني برادر پر غاړه وه.

د طالبانو تحریک د کندهار میوند ولسوالۍ له یوې مدرسې پیل شو، چې دغه مدرسه ملا عمر او ملا برادر په شریکه چلوله. کله چې د طالبانو تحریک جوړ شو، نو ملا برادر اول د نیمروز او بیا د هرات والي مقرر شو.

ملا عبدالغني برادر د تحریک په وخت کې د لوېدیځ زون قوماندان وټاکل شو. وروسته بیا د مرکزي پوځ مرستیال وټاکل شو او په ۱۹۹۹ ز کال کې بیا د پوځ لوی درستیز شو.

په همدې وخت کې د دفاع او کورنیو چارو وزارت اضافي کارونه هم ورته وسپارل شول.

کله چې امریکا د طالبانو حکومت وپرځاوه او د حامد کرزي په مشرۍ نوی حکومت رامنځته شو، نو ځینو طالبانو پر حامد کرزي د بریدونو پلانونه جوړ کړل چې ملا برادر خنثی کړل. ملا برادر او حامد کرزی د یوه قوم، پوپلزیو – دراني دي.

په ۲۰۰۷ ز کال کې د کویټه شورا جوړه شوه چې ملا برادر ته د شورا او د جنګي طالبانو مشري ور پر غاړه شوه.

کله چې حامد کرزي په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۹ ز کال کې له طالبانو سره د خبرو اترو پیل وکړ، ملا برادر هغه طالب مشر و د سولې پلوي یې کوله، خو له عملي کار مخکې زنداني شو. وروسته عبدالحکیم مجاهد، ملا عبدالسلام ضعیف، مولوي وکیل احمد متوکل او مولوي ارسلان رحماني له سیاسي فعالیت سره یو ځای شول. دا د حامد کرزي د وخت هڅې وې. که ملا برادر نه وای بندي شوی، ډېر احتمال و چې په ۲۰۰۹ ز کال کې به طالبان او افغان حکومت د سولې یوې توافقنامې ته رسېدلي وی.

عبدالغني برادر له خپلو نورو ملګرو سره د مشورو لپاره کراچۍ ته لاړ، چې په ۲۰۱۰ ز کال کې د پاکستان استخباراتي ادارو ونیو او نامعلوم ځای ته یې ولېږداوه او اته کاله ورک و.

امریکا د ملا برادر نیول کېدل وستایل، خو حامد کرزي دا کار وغانده. حامد کرزي ویلي وو چې له افغان طالبانو سره د سولې په خبرو کې پرمختګ شوی و، خو امریکا او پاکستان دغو خبرو ته زیان ورساوه او ځینې طالبان چې د سولې په خبرو کې ورسره بوخت وو، ونیول شول او یا ووژل شول.

د ملا برادر په نیولو ډېر طالبان خفه هم وو او ډېر طالبان یا افغانستان ته ستانه شول او یا هم نورو هېوادونو ته لاړل، خو ځینې طالبان بیا هم په پاکستان کې پاتې شول.

په ۲۰۱۲ ز کال کې حامد کرزي له پاکستان څخه بیا بیا وغوښتل چې د ملا برادر په ګډون، ټول هغه طالبان له بنده خوشي کړي چې د سولې له بهیر سره مرسته او پرمختګ کوي، خو پاکستان او امریکا دا غوښتنې ونه منلې.

په ۲۰۱۸ ز کال کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د افغانستان د سولې لپاره ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد وګوماره. اسلام آباد ته د زلمي خلیلزاد په بیا بیا تګ سره د ۲۰۱۸ ز کال د اکتوبر په ۲۴ مه ملا برادر له بنده خوشی شو او د ۲۰۱۹ ز کال د فبرورۍ تر میاشې پورې په پاکستان کې و، چې څو ورځې وروسته قطر ته ورسید او په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر مشر وټاکل شو.

له هغې وروسته ملا برادر د امریکا او نورو هېوادونو له استازو سره رسمي خبرې پیل کړې، چې پکې یې روسیې، ایران، تاجکستان، ازبکستان، اندونیزیا، چین او پاکستان ته سفرونه وکړل.

ملا عبدالغني برادر دوې مېرمنې لري چې له خپل مشر زوی سره یې په قطر کې اوسېږي.

# د حکومت د سولې طرحه؛

## محب: د امریکا او طالبانو هوکړه افغان جګړه پای ته نه شي رسولی



د ولسمشر غني د ملي امنیت سلاکار تېره ورځ په کابل کې د سولې د اووه ماده ییزې طرحې په اړه معلومات ورکړل. په دې وروستیو کې افغان حکومت د سولې یوه طرحه خپره کړې ده او وایي چې د دې طرحې په عملي کېدو سره په هېواد کې دایمي او با عزته سوله راتللی شي. حکومت ټینګار کوي چې له دې طرحې پرته د امریکا او طالبانو ترمنځ هر ډول هوکړه په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسېدو په مانا نه، بلکې د جګړې د یوه بل پړاو د پیل په مانا ده. حمدالله محب تېره ورځ پر همدې مسئله ولس ته معلومات ورکړل او د سولې طرحه یې د افغانستان د ژغورنې لار وبلله.

وروسته له دې چې د سولې لپاره د امریکا، روسیې او چین له لوري نوې هڅې پیل شوې، افغان حکومت هم په دې برخه کې خپل فعالیت وښود. ارګ د سولې په اړه د ولسمشر غني یوه طرحه خپره کړه او په هغه کې د سولې لپاره د حکومت سرې کرښې مشخصې شوې دي. تېره ورځ د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار هم د سولې د طرحې په اړه معلومات ورکړل. د هغه په خبره، افغان حکومت تر دې وړاندې د سولې لپاره کوم شرط نه درلود، خو اوس یې لومړی شرط دا دی چې طالبان باید د ریښتینې سولې لپاره یوه میاشت اوربند وکړي.

حمدالله محب دغه راز وویل، چې د دوی د سولې هڅې او د طرحې پیل له امریکا او ناټو پیلېږي، وروسته له پاکستان سره خبرې کوو او په درېیم قدم کې به له طالبانو سره مخامخ خبرې کېږي. محب وایي چې له امریکا سره به د سولې او د هېواد د راتلونکې په اړه خبرې کوي او له پاکستانه به دا غواړي چې د طالبانو له ملاتړه لاس واخلي. هغه ټینګار کړی چې د پاکستان تر ملاتړ پرته طالبان یوه ورځ هم جګړه نه شي کولی او تر هغه چې د پاکستان ملاتړ وي، طالبان به هم جګړې کوي.

محب دغه را وایي چې د طالبانو او پاکستان ترمنځ اړیکې باید واضح شي. ده په خپلو پرونیو څرګندونو کې په واضح توګه طالبان د پاکستان لاسپوڅي وبلل او په خبره یې، دوی د دغه هېواد د ګټو لپاره جګړه کوي. د محب په خبره، پاکستان باید د طالبانو له ملاتړه لاس واخلي او طالبان هم باید د سولې د تامین لپاره له پاکستان او نورو ترهګرو ډلو سره خپلې اړیکې پرې کړي. محب وایي: ((دا یوازې افغانانو ته نه، بلکې ټولې نړۍ ته روښانه ده چې طالبان د پاکستان لاسپوڅي دي او که د پاکستان مرسته نه وي، جګړې ته دوام نه شي ورکولای. طالبان باید وضاحت ورکړي چې له پاکستان سره څه اړیکه لري. که له افغانانو سره مذاکرات کوي، نو باید افغان وژنه بس کړي)).

محب طالبان هم په څو ډلو وویشل او په خبره یې، که طالبان ریښتیا سوله غواړي، نو باید ثابته کړي چې د دوی قوماندانان په یوه خوله دي او ټول تر یوه کنټرول لاندې دي. هغه زیاته کړې چې طالبان د دې خبرې د ثابتولو لپاره باید یوه میاشت اوربند اعلان کړي، څو معلومه شي چې طالب قوماندانان تر یوې قوماندې لاندې دي. خو د دې تر څنګ یې پر دې هم ټینګار کړی چې ځینې طالبان د جګړې پلویان دي او دغه کسان لا سر له اوسه د داعش په لیکو کې فعالیت کوي.

محب د طالبانو مشرتابه د نشه یي توکو او انسانانو په قاچاق هم تورن کړ او وایي، د افغانستان روانې جګړې ته باید مذهبي رنګ ور نه کړل شي. د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار وایي چې ځینې طالبان واک ته د رسېدو لپاره جګړه کوي، بله ډله د پردیو په لارښوونه او ملاتړ جګړه کوي او یوه بله ډله بیا د نشه یي توکو او انسانانو په قاچاق کې لاس لري. ده ټینګار کړی چې افغان حکومت سولې ته ژمن دی او د دایمي سولې یوازینۍ لار دا ده چې طالبان د پاکستان له ملاتړه لاس واخلي او دغه ډله مخامخ له افغان حکومت سره خبرې پیل کړي.

افغان حکومت داسې مهال د سولې طرحه وړاندې کړې چې په نړیواله کچه د افغان سولې لپاره اجماع رامنځ ته شوې، خو طالبان ټینګار کوي چې یوازې او یوازې له امریکا سره خبرې کوي. دوی افغان حکومت لاسپوڅی او بېواکه بولي.

# ایسپر: د البغدادي په وژل کېدو سره په سوریه کې جګړه نه ختمېږي



د امریکا متحده ایالتونو دفاع وزیر مارک ایسپر ویلي، د البغدادي په وژل کېدو سره په سوریه کې جګړه نه ختمېږي.

هغه زیاته کړې: «د البغدادي مړینه به نړۍ له تشدده خلاصه نه کړي او نه به په سوریه کې جګړه ختمه شي، خو یقیناً هغو کسانو ته پیغام رسوي چې د امریکا عزم تر پوښتنې لاندې راولي او هغو وېره اچوونکو ته چې فکر کوي پټېدای شي، خبرداری ورکوي».

ایسپر دغه راز زیاته کړې، سره له دې چې داعش وسله وال له الهام ښښونکي مشر څخه بې برخې شول، خو په سوریه کې امنیتي وضعیت لا هم پېچلی دی او د هغه مړینه به هلته روان کړکېچ پای ته ونه رسوي.

نوموړي زیاته کړې، امریکایي ځواکونه به په ستراتېژیک موقعیت کې پاتې شي، څو د اسلامي دولت ډله پرې نږدې چې د سوریې په شمال- ختیځ کې د تېلو مهمې زېرمې لاسته راوړي.

د امریکا دفاع وزیر ویلي، د هرې هغې ډلې پر وړاندې به له سخت پوځي ځواکه کار واخلي، چې د دغو زېرمو امنیت وګواښي.

بلخوا د امریکا یوه بل لوړپوړي پوځي چارواکي ویلي، چې د ځانګړو ځواکونو په هغو عملیاتو کې چې د داعش ډلې مشر ابوبکر البغدادي پکې ووژل شو، د دغې ډلې دوه نور مهم کسان هم نیول شوي دي.

د امریکا د لویو درستیزانو د کمېټې مشر مارک میلي له دفاع وزیر مارک ایسپر سره په یوه ګډه خبري غونډه کې ویلي، دا دوه کسان د دوی په توقیف کې دي.

که څه هم میلي د دغو دوو کسانو هویت او له البغدادي سره د هغوی اړیکې نه دي افشا کړې، خو زیاته کړې یې ده چې دواړه د داعش ډلې کلیدي غړي دي. هغه ویلي: «امریکایي ځواکونو البغدادي داسې مهال چې په یوه تونل کې پټ شوی و، وموند. عملیاتي ځواکونه البغدادي ته ورنږدې شول او عملیات هغه مهال پای ته ورسېدل چې البغدادي خپل انتحاري واسکټ والوزاوه».

د یادونې ده چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د یکشنبې په ورځ (اکتوبر ۲۶مه) اعلان وکړ چې د دغه ځانمرګي واسکټ په چاودلو سره البغدادي او د هغه درې ماشومان ووژل شول.

د امریکا متحده ایالاتو ویلي چې د ابوبکر البغدادي پر وړاندې عملیاتو کې هېڅ امریکایي سرتېري ته زیان نه دی رسېدلی.

بلخوا د بغدادي په وژل کېدو سره پر امریکا او ملګرو ملتونو سربېره، د نړۍ د ډېرو هېوادونو او بنسټونو مشرانو خوښي ښودلې او دا یې د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې په برخه کې لویه لاسته راوړنه بللې ده.

## د کتـــاب خبـرې

# پښتانه


## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق
◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

### شپږم څپرکی
### پښتونخوا د ترهگرۍ په لومه کې




د خبرو د دوام په پایله، د ۲۰۰۹ز کال په فبروري کې د سولې تړون وشو. له نړیوالو او کورنیو فشارونو سره بیا هم نېشنل عوامي گوند، د تحریک نفاذ شریعت محمدي ډلې لپاره په سوات کې د شریعت پلي کېدل او د هغوی محکمې یې ورسره ومنلې، خو د سولې تړون ځواک ډېر ژر تر پوښتنې لاندې شو. نېشنل عوامي گوند د اسلام‌اباد او پوځ په ملگرتیا غوښتل چې فضل الله له خپلو ۶۰۰۰ کسانو سره بې وسلې کړي. تحریک نفاذ شریعت محمدي او طالبانو د بې وسلې کولو په اړه له هر راز خبرو ډډه وکړه. هغوی پر حکومت تور ولگاوه چې د هغوی پیاوړي کسان یې له منځه وړل. یو پاکستاني څېړونکي طارق الرحمن په دې اړه داسې وویل: ((د سولې له تړون وروسته، سوات اصلاً د پاکستاني دولت یوه برخه نه ښکاري. دا سیمه د طالبانو لاس ته لوېدلې، نور هلته د طالبانو حاکمیت چلېږي. زموږ دولت باید دا تریخ حقیقت ومني.))

د سولې له تړون سره پاکستان کې سخت بحثونه راپورته شول. سوات د فاټا په څېر نه و، دلته رسنیو لاسرسی لاره. د پوهنې د کچې لوړوالی او له سیاسي گوندونو سره تړون د دې ثرگندوی و چې له سوات څخه نړۍ ته غږ جگېدلای شوای. دا هغه څه وو چې په فاټا کې پښتنو نه شوای کوی.

نېشنل عوامي گوند د سولې د تړون پلي کېدل پیل کړل، له حقوقي بدلونونو سره یې هوکړه وکړه، د هغوی وړاندیزونه د پاکستان له ملي پارلمان تېر شول او اصف علي زرداري هم د ۲۰۰۹ز کال په اپرېل کې توشېح کړل. نېشنل گوند په پټه صوفي محمد وهڅاوه چې په سوات کې یوه غونډه تنظیم کړي او له طالبانو وغواړي چې خپلې وسلې پر ځمکه کېږدي. واجد علي خان، په سوات کې د نېشنل گوند غړی او ولایتي وزیر و چې له صوفي محمد سره د خبرو په ډله کې یو دی هم شامل و. واجد علي خان داسې څرگندونې کړې وې: ((هغه موږ ته وویل، که حکومت د شریعت پلي کېدو ته اجازه ورکوي، نو زه به د یوې فتوا له لوري ټول هغه کسان چې دې لارې ته غاړه نه ږدي مرتد وگڼم.))

د ۲۰۰۹ز کال د اپرېل پر ۱۹مه، صوفي محمد د هیلې خلاف کار وکړ. د دې پر ځای چې د طالبانو پر ضد فتوا ورکړي، هغه د پاکستان د حکومت پر ضد غږ جگ کړ، ویې ویل چې د پاکستان سیاسي سېستم او اساسي قانون غیر اسلامي دي. ډېری سیاستوال ژر پوه شول چې نور د سولې «تړون» پای ته رسېدلی و.

د پاکستان د کورنیو چارو پخواني وزیر د سوات په اړه داسې نظر لاره: ((په سوات کې یواځینی لوبغاړی صوفي محمد نه دی. هغه د ۱۹۹۴ او ۱۹۹۵ز کلونو نفوذ هم له لاسه ورکړی دی. هلته اصلي لوبغاړی مولانا فضل الله دی. دوی ځکه د تړون په اړه له مولانا صوفي محمد سره پرېکړه کړې وه، فکر یې کاوه چې هغه به پر خپل زوم نفوذ ولري، خو هغه هغسې نفوذ نه لاره چې په پایله کې یې تړون ناکام شو.))

طالبانو د سوات په ختیځ او لوېدیځ کې پر بنور او دیر ولسوالیو هم کنټرول ټینگ کړ. د خیبر پښتونخوا ولایتي وزیر، امیر حیدرخان هوتي، هغه وخت د نورو په څېر نظر تایید کړ چې د سولې د تړون له مخې یې د طالبانو د ساحې د پراختیا ادعا وکړه. هغه ویلي وو: ((د هغوی مشـرانو د خبرو په ترڅ کې د وخت کافي فرصت په لاس کې واخیست. هغوی له دې فرصته په استفادې په سوات کې لا هم اور تازه کړ.))

د ۲۰۰۹ز کال په مې میاشت کې طالبانو د خلکو سپکاوي ته په شدت دوام ورکاوه، ځکه نو، د ځایي خلکو پر جگړه مارو ډلو باور کم شو او د هغوی پر ضد ودرېدل. د نېشنل عوامي گوند د سولې د متناقض تړون په ترڅ کې افراطي جنگیالیو ته د هغوی د ارادو د پلي کېدو زمینه برابره شوه، خو پاکستاني رسنیو خپل رسالت په ښه توگه نه اداء کاوه، یا خو یې د دولت لوری نیوه او یا یې هم د خبریالانو له لوري ورته ناسم معلومات رسېدل.


په سوات کې د طالبانو له ځینو ظالمانه بریدونو وروسته د هغوی پر ضد د عامو خلکو غوسه راپورته شوه، په دې ترڅ کې حکومت هم خپل لوری بدل کړ. ولسمشـر اصف علي زرداري د یوې ځوانې پېغلې په عام محضر کې د وهلو قضیې د څېړلو امر وکړ او د دې پېښې د څېړلو لپاره یې یو پلاوی وگماره. له دې پېښې په ټلیفون یوه وېډیو شوې وه چې پر یوټیوب سربېره د پاکستان د ټلویزون پر خبرونو هم خپره شوه. په وېډیو کې ښکاري، په بورقه کې پېچلې یوه ځوانه مېرمن د ناپېژاندو کسانو له لوري د اعتراف لپاره وهل کېږي. وېډیو کې د هغې کړیکې هم اورېدل کېږي. د دې وېډیو له خپرېدو سره اسلام تر نوو نړیوالو فشارونو لاندې شو. د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې، هېلري کلېنټن د ۲۰۰۹ز کال په اپرېل کې، د کانگرېس د بهرنیو چارو کمېټې ته وویل: ((فکر کوم چې د پاکستان حکومت په لوی لاس طالبانو او افراطیانو ته د فعالیت اجازه ورکړې ده. په دې برخه کې د پاکستان د دولت بې پروایي، د نړۍ ثبات ته گواښ پېښولای شي.))

**دوام لري...**

# ځان مه تباه کوه

اکسوس کتابپلورنځی

(ځان مه تباه کوه) د سکاټلنډي لیکوال، انگېزه ورکوونکي ویناوال او د ځان روزنې د متخصص (گري جان) اثر دی، چې د لومړي ځل لپاره په ۲۰۱٦ زېږدیز کال کې خپور شو او د نیویارک ټایمز د ډېرو پلورل شویو کتابونو په ډله کې راغلی دی. دغه کتاب په فارسي ژبه هم تر اوسه پورې ۱۹ځله چاپ شوی دی او پښتو ژبې ته یې ژباړه حمیدالله حمیدي کړې ده. کتاب د هغو کسانو لپاره خورا گټور دی، چې په ستونزو کې را گیر، له ژونده ستړي او مایوسه شوي دي. لیکوال په خپل کتاب کې تاسو ته عملي سپارښتنې کوي او هغه امکانات په واک کې درکوي، چې په وسیله یې کولی شی په ډېرې اسانۍ سره خپلې ستونزې حل کړی او له تباهۍ ځان وژغوری. په دغه کتاب کې لوستونکي ته ویل کېږي، چې له تاسو پرته هېڅوک نه شي کولی تاسو په ستونزو کې را گیر کړي او یا مو له ستونزو خلاص کړي، بلکې تاسو خپله، ستاسو افکار او ستاسو لید لوری دی چې تاسو د تباهۍ کندې ته ور ټېل وهي او یا مو وژغوري. په کتاب کې راځي، که تاسو وغواړئ او که ونه غواړئ ژوند به روان وي، خو دا چې تاسو یې په څه ډول تېروی، دا ستاسو خپل اختیار دی. تاسو به د ارواپوهنې په ډېری کتابونو کې لوستي وي چې پر مثبت فکر او مثبت لیدلوري بې کچې ټینگار کوي. یاد کتاب دا روښانه کوي، چې مثبت فکر او مثبت لیدلوری هم اړین دي، خو تر هغه ضروري خبره لاس پکار کېدل او د عمل ډگر ته ور دانگل دي. لیکوال لیکي، که تاسو په خپله خونه کې ناست وی او ټوله ورځ مثبت فکر کوی او په دې اند وی چې هر څه به سم شي، دا نو هسې د وخت ضایع کول دي. د مثبت فکر تر څنگ، عمل او متې بډ وهل هغه څه دي، چې بریا مو یقیني کولی شي. گري جان په کتاب کې لیکي، ژوند له ستونزو او کړاوونو خالي نه دی او نه هم د عسکرو تشریفاتي حرکت ته ورته دی، بلکې ژوند یوه گډا او له لوړو ځوړو ډک سفر دی. لیکوال لوستونکی ننگوي، پېغور ورکوي، عملاً یې له پېښو سره مخ کوي او له ستونزو سره د مبارزې لار ورته روښانه کوي. په کتاب کې د ستونزو د حل لپاره یوازینۍ لار عزم او کلکه اراده بلل شوې ده او د عملي بېلگو په ورکولو سره یې ثابته کړې هم ده. یاد کتاب نهه څپرکي لري، ځینې څپرکي یې د بریالي ژوند په اړه پېچلي مسایل هم لري، چې یو څه دقت غواړي. هر څپرکی یې گام پر گام ستاسو پر مخ په ژوند کې له پېښېدونکو ستونزو سره مبارزې، بریالي، خوښ او له ویاړ څخه ډک ژوند ته د رسېدو دروازه پرانیزي.




په ټوله کې مو دا کتاب د ژوند کولو پر سبک، له ستونزو سره د مبارزې پر چل او تر هرڅه مهم لاس پکار کېدو ته اړباسي.

مینه وال کولای شي یاد کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | I Steve, steve jobs in his own words | steve jobs | ۱۲۰ؤ |
| ۲ | شرح کود جزا | قانونپوه محمد اشرف رسولی | ٦٥٠ؤ |
| ۳ | سازماني چلند | رباني زلمی | ۱۳۰ؤ |
| ٤ | د تفتیش او کنټرول اساسات | | ۱۲۰ؤ |
| ٥ | مالي سیاست | دوست محمد احمدزی | ۱٥٠ؤ |
| ٦ | شوهرها می پرند | میشل اچ مک کان | ۱٥٠ؤ |
| ۷ | فوق العاده اوسئ | رابین شرما | ۱٥٠ؤ |
| ۸ | اسراف در پرتو قرآن و سنت | عزیزه توحید | ۱٥٠ؤ |
| ۹ | اسلام او سیکولاریزم یوه پرتلنه | دوکتور یوسف القرضاوي | ۱٥٠ؤ |
| ۱۰ | ورانپوهاوی ننداره | البرکامو | ٦٠ؤ |
| ۱۱ | د نړۍ سیاسي تاریخ | سید عبدالحکیم حکمت | ۱۲۰ؤ |
| ۱۲ | مشک و عنبر | استاد فرید احمد هلال | ۱۷۰ؤ |
| ۱۳ | دوه مخی کرنل امام په افغانستان کې د افغانستان د جهاد داستان | احمد رضوان تارړ | ۱۲۰ؤ |
| ۱٤ | فیدل کاسترو پس از کناره گیری | داود جلیلی | ۱۰۰ؤ |
| ۱٥ | ذروي وسلې | پوهنیار محمد عالم امین | ۱۲۰ؤ |
| ۱٦ | مسائل نظامی و استراتژیک معاصر | دکتر بهادر امینیان جزی | ۲۳۰ؤ |
| ۱۷ | اصول بازاریابی جلد اول | فیلپ کاتلر گری آرمسترانگ | ٤٥٠ؤ |
| ۱۸ | ۱۰دقیقې کاري ډلې او ډله ایز کار | داکتر عبدالقادر سمسور | ۱٥٠ؤ |
| ۱۹ | اساسات پالیسی سازی عامه سیاستگذاری عمومی | پوهنیار سجیه بهگام امین | ۱۲۰ؤ |
| ۲۰ | جغرافیای اقتصادی قاره ی افریقا | پوهاند میرهارون احمدی | ۲٦٠ؤ |
| ۲۱ | جغرافیای افغانستان و فرصت های ثروت سازی | محمد عظیم عظیمی | ۳٥٠ؤ |
| ۲۲ | نظام شمس سیارات | پوهان عبد القدیر رویان | ۲۰۰ؤ |
| ۲۳ | The Path to Personal Power | Napoleon Hill | ۲۰۰ؤ |
| ۲٤ | مرا با یک جمله نصیحت کن | محمد حلیم صالحی | ۱۰۰ؤ |
| ۲٥ | ژوند وکړه | عبید موسم | ۷٠ؤ |
| ۲٦ | قرآني اروا پوهنه | دوکتور مجدي عبید | ۱۲۰ؤ |
| ۲۷ | راز لکنت زبان | کامبخش فرهمند پور | ۲۰۰ؤ |
| ۲۸ | چهار هدیه ی عشق | ویلارد اف هارلی | ۱۲۰ؤ |
| ۲۹ | چارلي چاپلین ژوند ، فکر او هنر | اسماعیل آشنا | ۱۰۰ؤ |
| ۳۰ | د مخ پر ودې هېوادونو سیاست | پیټربرنل او ویکي رنډال | ۳٥٠ؤ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۰ |
| € | ۸٦,٤۰ |
| Rp. | ٤۹٤ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹۹,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

**Kam Air**

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

**flydubai**

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بيړنۍ شميرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# د اقتصادي سياستونو مفهوم او پېژندنه

لیکنه: ګلاب بهار - څلورمه برخه

**د اقتصاد او سياست ترمنځ اړيکې**

د اقتصاد رابطه د دولت له سياست سره په يوه ډېره وړه ساحه کې محسوسه ده. د بېلګې په ډول، په يوه وړه خدماتي تصدۍ کې د قېمت لوړولو يا ډېرې ګټې لاسته راوړلو په اړه پوهاوی تر لاسه کول، د تصدۍ لپاره معقوليت لري، خو په سياسي لحاظ دا کار يوه تېروتنه ده. همدارنګه غير دولتي تصدۍ او موسسې پر دې مکلفې دي، چې کله هم د اقتصادي سياست په برخه کې تصميم نيسي، بايد سياسي ملحوظات په نظر کې ولري.

د بېلګې په ډول، له ۱۹۵۷ ز کال څخه وړاندې په المان کې يو ځو اقتصادي تصديو مارکه لرونکي اجناس توليدول، سره له دې چې په لوړ قېمت ورته تمام شوي وو، خو د قېمت په لوړولو کې يې څه اقدام و نه کړ، ځکه دوی غوښتل چې د المان د ماليې وزير په انتخاباتي مبارزه کې بريالی کړي.

له دې اړيکو څخه معلومه شوه چې اقتصاد د ژوند په ټولو برخو کې په عملي شکل اثر لري، نو پکار ده چې د يوې لويې فابريکې رييس د يوه تاجر په نسبت، ډېر باکفايته او په ټولنيزو او سياسي مسايلو کې د زياتو معلوماتو لرونکی وي او همدارنګه يو سياستمدار چې په کومه سيمه کې د سياست لوبغاړی وي، بايد اقتصادي مشاورين ولري.

د همدې اصل له مخې، په پرمختللو هېوادونو کې د سياستمدار ټاکل يوه عادي مسئله ګڼل کېږي، ځکه چې د هغوی تر څنګ اقتصادي مشاورين کار کوي. پر دې سربېره، ليدل کېږي چې په بين المللي سازمانونو کې مهمې او اساسي چوکۍ اقتصاد پوهانو تر لاسه کړې دي، ځکه په سياست کې د



اقتصادي پرابلمونو لپاره د حللارې پيدا کولو ته ضرورت دی او په دې مسئلو کې اقتصاد پوهان ښه پوهېدای شي. پس ويلای شو چې اقتصاد او سياست يو تر بله کُل او جز دي چې بې له يو بل څخه نيمګړي دي او يو د بل تکميلوونکي عناصر بلل کېږي.

کله چې اقتصادي سياستونه د اقتصادپوهو سياستمدارانو ترمنځ په همغږي ډول ايجاد شي، نتيجه يې مثبته او د هېواد د ملي ګټو په پار د يادولو وړ وي. هغه سياستونه چې اقتصادپوهان او سياستمداران يې ايجادوي، له ځينو څخه يې په لاندې ډول يادونه کوو:

**لومړی- معقول اقتصادي سياستونه**

معقول اقتصادي سياستونه د دې لپاره ايجادېږي، څو په اقتصادي سياستونو کې يوه معقوله لاره غوره شي، نو دا چې څنګه معقوله لاره وټاکو، لازمي ده چې د اقتصادي سياست د اساسي خطوطو په طرح کولو کې ځينو فکټورونو ته خاصه پاملرنه وشي، چې هغه فکټورونه په لاندې ډول دي:

۱.هغه اقتصادي تګلاره چې پر معقوليت ولاړه وي، پلان يې منظم، علمي، متوازن او دقيق جوړ شوی وي، د کاميابۍ معيارونو په نظر کې نيولو سره بايد تطبيق کړای شي.

۲. د اهدافو سيستم بايد جامع او مکمل وي، څو د غلط فهمۍ او تېروتنې مخنيوی پکې وکړای شي.

۳. دا چې هدف خپله يو ارزښت او قېمت ته ويل کېږي او له ارزښت څخه لازمي ده چې ښه استفاده وکړای شي، ځکه ضايع کول يې تاوان دی.

د اقتصاد علما پر دې پوهېږي چې د ټکنالوژۍ پرمختګ او انکشاف، له اقتصادي انکشاف سره برابر نه دی. دا په دې مانا چې ټکنالوژي د ژوند يوه برخه احتوا کوي، په داسې حال کې چې د اقتصاد انکشاف د ژوند په ټولو ابعادو پورې تړاو لري. دا دې ته ورته والی لري چې يو حزبي مشر له يو زعيم سره پرتله کړو.

د بېلګې په ډول، دا ښکاره خبره ده چې حزبي مشر يوازې د خپلې ډلې ګټې په نظر کې نيسي، په داسې حال کې چې پر هېواد سربېره، د ټول هېواد ګټې ساتي او هم د هېواد روابط له نورو هېوادونو سره په نبض کې نيسي، چې د دې موضوع اهميت په اجتماعي علومو کې ښه معلوميدای شي. د دې ټکو په نظر کې نيول، د معقول سياست لپاره شرط دی.

۴. د اهدافو سيستم بايد دقيق جوړ شوی وي. يانې د پلان د تطبيق لپاره د کار وېش ته پوره پاملرنه وشي. دا په دې خاطر چې د اهدافو سيستم له بېلابېلو فردي اهدافو څخه مرکب وي. د بېلګې په ډول، د يوې کورنۍ اړتياوې په نظر کې ونيسئ، ګورو چې غوښتنې زياتې او که امکانات زيات دي؛ نو په دې موقع کې يو اقتصادپوه ته پکار ده چې داسې اقتصادي پاليسي خپله کړي، چې د کورنۍ اعظمي غوښتنو ته ځواب ووايي او له بې اتفاقۍ څخه پکې مخنيوی شوی وي.

۵. د اقتصادي سياست په جوړولو کې د فردي اهدافو منفي او مثبت اثراتو ته بايد پوره پاملرنه وشي، ځکه دا يوازې د ارزښت د تعينولو مسئله نه ده، بلکې يوه علمي موضوع هم ده، چې په دې کار سره د يو ټولنيز مشکل د حللاره لټول کېږي؛ نو ضروري ده چې د معقول اقتصادي سياست لپاره اجتماعي علوم هم مطالعه شي، چې موضوع له اهدافو سره مرتبطه وي.

٦. پلان بايد دقيق او متـوازن وي، څو له اهدافـو سره مطابقت ولري.

۷. د هدف د لاسته راوړلو لپاره سيستم بايـد جامع او مکمل وي.

۸. دا چې هدف يو ارزښت ته ويل کېږي، بايد ښه استفاده ترې وشي، ځکه ضايع کول يې زيان رامنځته کوي.

۹. د اهدافو سيستم بايد دقيق جوړ شوی وي. دا په دې مانا چې د پلان د تطبيق لپاره د کار طريقه او روش بايد له وړاندې څخه روښانه وي.

۱۰. دا چې د اهدافو سيستم له بېلابېلو فردي اهدافو څخه مرکب وي، نو ځکه د پلان د جوړونې په موقع ټول اهداف بايد درجه بندي شي او هر يو ته قېمت او ارزښت ورکړل شي، لکه د يوې کورنۍ ضرورتونه او امکانات.

**دوام لري...**

## <u>بهرنيو چارو وزارت:</u> د دغه وزارت کارکوونکي دې پر خواله رسنيو د سياسي وضعيت په اړه له نظر ورکولو ډډه وکړي

بهرنيو چارو وزارت د دغه وزارت ټولو رسمي او قراردادي کارکوونکو ته جدي سپارښتنه کړې، چې پر خواله رسنيو دې د هېواد د سياسي او امنيتي وضعيت په اړه له هر ډول بحث او نظر ورکولو ډډه وکړي.

دغه ليک د بهرنيو چارو وزارت د سياسي مرستيال ادريس زما لخوا لاسليک شوی او په کابل او ولايتونو کې د بهرنيو چارو وزارت د ټولو څانګو په ګډون، له هېواده بهر د افغانستان سياسي استازوليو او کونسلګريو ته هم استول شوی دی.

له دې ليکه څرګندېږي چې د بهرنيو چارو وزارت تر دې وړاندې هم خپلو ټولو کارکوونکو ته د خواله رسنيو د کارولو په اړه يو لارښود استولی دی.

د ليک په پای کې راغلي، که د دغه وزارت کوم کارکوونکی سرغړونه وکړي، نو جدي قانوني چلند به ورسره وشي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستيو کې پر خواله رسنيو د بهرنيو چارو وزارت د ځينو کارکوونکو نظرونو په حکومت کې دننه او همدا راز په عامو خلکو کې بحثونه او ان اختلافات را پارولي دي.

تر ټولو وروستۍ بېلګه يې د بهرنيو چارو وزارت پخوانی وياند صبغت الله احمدي و، چې د افغان سولې په تړاو پر خواله رسنيو د خپلو څرګندونو له کبله له دندې ګوښه او وروسته لويې څارنوالۍ ته ور وپېژندل شو.

تېره مياشت پاکستان ته د طالب استازو د سفر پر مهال احمدي پر خپله ټوېټرپاڼه ليکلي وو، چې افغان دولت د سولې په لړ کې د سيمې هېوادونو د هلو ځلو هرکلی کوي.

خو ولسمشرۍ ماڼۍ پاکستان ته د طالب استازو پر سفر شک ښودلی و او د احمدي څرګندونې يې د هغه شخصي نظر بللی و. وروسته صبغت الله احمدي ټينګار کاوه چې د بهرنيو چارو وزارت رسمي دريځ يې شريک کړی دی.

نوموړی وروسته له دندې ګوښه شو، خو اجرايه رييس عبدالله عبدالله په دې تړاو د ولسمشر محمد اشرف غني امر رد کړ او هغه يې د ټاکنيز کمپاين برخه وبلله.

له څو ورځو نانديريو وروسته صبغت الله احمدي له دندې لرې شو او پر ځای يې ميرويس ناب د بهرنيو چارو وزارت سرپرست وياند ونومول شو.

په ورته وخت کې د بهرنيو چارو وزارت دغه ليک د بيان د ازادۍ د ملاتړو بنسټونو غبرګونونه راپارولي دي.

د افغانستان له ازادو رسنيو د ملاتړ اداري يا نی ويلي، چې د بهرنيو چارو وزارت دغه پرېکړه د افغانستان له نافذه قوانينو سره په ټکر کې ده او له دغه وزارته يې د توضيحاتو غوښتنه کړې ده.

## خليلزاد د سولې خبرو د بيا پيل لپاره د پاکستان له لومړي وزير سره کتلي دي

د پاکستان لومړي وزير عمران خان د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت له ځانګړي استازي زلمي خليلزاد سره په ليدنه کې، د افغان سولې له بهير څخه د ملاتړ تر څرګند، د سولې پر وړاندې د پرتو ستونزو پر لرې کولو ټينګار کړی دی.

د عمران خان له دفتره په خپره شوې اعلاميه کې ويل شوي، د سولې په برخه کې بايد د تر لاسه شوو هڅو ساتنه وشي او د دغه بهير پر وړاندې د منفي هڅو مخه بايد ونيول شي.

عمران خان په افغانستان کې د جګړې د ختمولو لپاره د دواړو لورو ترمنځ د تاوتريخوالي کمېدو په موخه، د عملي قدمونو پر پورته کولو هم ټينګار کړی دی.

په اعلاميه دغه راز ويل شوي: «د يو صادق زمينه برابروونکي ملګري په توګه پاکستان چمتو دی، چې څه يې په توان کې وي او ممکن وي، د ګډ مسووليت د يوې برخې په توګه يې د سولې د ژر هوکړې بشپړېدو لپاره تر سره کوي».

عمران خان ويلي، په افغانستان کې تلپاتې سوله، امنيت، ثبات او هوساينه د پاکستان او سيمې په ګټه ده.

د يادونې ده چې زلمي خليلزاد په مسکو کې د افغان سولې په اړه د څلور اړخيزې غونډې تر پای ته رسېدو وروسته، د تېرې شنبې په ورځ په کابل کې له افغان چارواکو سره هم وکتل.

د افغان سولې په اړه د مسکو په څلور اړخيزه غونډه کې چين، پاکستان، واشنګټن او مسکو د امريکا او طالبانو ترمنځ د سولې خبرو پر بېرته پيلولو موافقه وکړه.

خليلزاد د روانې اکتوبر مياشتې په ۲۱مه اروپا ته د افغان سولې په اړه سفر وکړ، چې له پاريس، بروکسل او د مسکو له چارواکو سره يې پر افغان سولې خبرې وکړې.

دا د افغان سولې په اړه د امريکا د ولسمشر ټرمپ لخوا له طالبانو سره د سولې خبرو تر لغوه کېدو وروسته، پاکستان ته د خليلزاد دويم سفر دی چې تر سره کېږي.

بلخوا افغان حکومت هم ويلي چې له طالبانو سره د سولې د خبرو لپاره يې يوه اووه ماديېزه طرحه وړاندې کړې، چې اوربند هم پکې شامل دی.

مسير ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**ايډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اېمل خان، نذير احمد سهار او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لړم اتمه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۳۰مه | ٤٥٤مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | ۲۷ | ۲۹ | ۲۵ | ۲۹ | ۲۵ |
| ۷ | ١٤ | ۱۳ | ۱٥ | ١٦ | ۱٥ |


شرعي وختونه: سهار ٠٤:٤٦ | لمر ختل ٠٦:٠٩ | ماسپښین ١١:٣٨ | مازیګر ٠٢:٤١ | ماښام ٠٥:٠٥ | ماخوستن ٠٦:٣٠

## نړۍ



۳

## په عراق کې د لاریونونو له امله نږدې ۹۰۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې



د عراق په کربلا ښار کې پر لاریون کوونکو د امنیتي ځواکونو په ډزو کې ۱۴ تنه وژل شوي او تر ۸٦٥ زیات ټپیان دي.

په ورته وخت کې د عراق په بل ښار ناصریه کې ډاکترانو ویلي چې دری لاریون کوونکي چې هلته په نښتو کې ټپیان شوي وو، ورمه شپه په روغتون کې مړه شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د اکتوبر له پیل راهیسې د عراق په لویو ښارونو کې خلک د بې‌کارۍ، اداري فساد او لوړو قیمتونو پر ضد لاریونونه کوي.

لاریونوال د دغه هېواد د لومړي وزیر عادل عبدالمهدي حکومت په اداري فساد کې په لاس لرلو تورنوي. په ورته وخت کې د دغه هېواد لومړی وزیر په حکومت کې ځینې ستونزې مني، خو ټینګار کوي چې لاریونوال دې له حکومت سره د دغو ستونزو په هواري کې مرسته وکړي.

د یادونې ده چې په یوه میاشت کې تر ۲۵۰ زیات عراقیان په دغو لاریونونو کې وژل شوي او په سلګونو نور ټپیان شوي دي.

د ملګرو ملتونو په ګډون، امریکا او ځینو نورو هېوادونو د عراق پر حکومت غږ کړی چې ژر تر ژره دې له لاریونوالو سره خبرو ته کښېني او روان کړکېچ دې له سوله ییزو لارو حل کړي.

## د پاکستان پخوانی لومړی وزیر نواز شریف د خراب روغتیایي وضعیت له کبله روغتون ته لېږل شوی



د پاکستان پخوانی لومړی وزیر نواز شریف چې د فساد په تور زنداني شوی، د خراب روغتیایي وضعیت له کبله اوس روغتون ته لېږدول شوی دی.

ډاکترانو ویلي چې د شریف صحت ښه نه دی او د نامعلومې مودې لپاره له زندان څخه په ضمانت خوشې شوی دی. دوی دغه راز زیاته کړې چې نوموړی اوسمهال په لاهور ښار کې په یوه روغتون کې بستر دی.

د نواز شریف شخصي ډاکټر عدنان خان پر خپل ټویټر لیکلي: «پخوانی صدراعظم ډېر ناروغ دی او د ژوندي پاتې کېدو او ښه کېدو لپاره مبارزه کوي».

پر هغه تر دې وړاندې د زړه حمله هم راغلې وه، خو ډاکتران اوسمهال وایي چې د هغه د وینو د اجزاو یو جز کم شوی چې له کبله یې د ګردو فعالیت هم خراب شوی دی.

ډاکټر عدنان ویلي چې د شریف د وینې د فشار او شکر اندازه هم زیاته شوې چې د هغه روغتیا یې نوره هم خرابه کړې ده.

نواز شریف چې یو مهال د پاکستان لومړی وزیر و، د فساد په تور زنداني شوی دی. د عمران خان په دوره کې د نوموړي نوم په فساد د ککړو او تورنو کسانو د لېست په سر کې دی. محکمې هغه ته امر کړی چې د اوس لپاره دې له پاکستان څخه نه وځي.

په ورته وخت کې د فرانسې خبري اژانس ویلي چې نواز شریف ٦۹ کلن دی او محکمې په ۲۰۱۷ ز کال کې پر هغه باندې د هر ډول سیاسي فعالیت بندیز ولګاوه.

## شرکت درملوگ ۱.۹ میلیون رأی بایومتریک شده را تائید کرده است



شرکت درملوگ که مسؤلیت فراهم سازی دستگاه‌های بایومتریک را به کمیسیون انتخابات افغانستان دارد، در یک نامه به این کمیسیون تائید می‌کند که بیش از یک میلیون و ۹۰۰ هزار رأی در بانک اطلاعات دستگاه‌های شناخت بایومتریک ثبت شده اند.

در این نامه که به کمیسیون مستقل انتخابات فرستاده شده، این شرکت گفته است که در باره حدود ۱۳۷ هزار رأی اختلاف برانگیز را از دستگاه‌های احتیاطی در روز انتخابات قرنطین کرده است.

این نامه در پاسخ به نامه کمیسیون انتخابات فرستاده شده است. این کمیسیون در نامه اش که روز چهارم ماه عقرب فرستاده شده است، از شرکت درملوگ پرسیده است که چرا آرای بایومتریک در سیستم کمیسیون انتخاب (یک میلیون و ۹۲۹ هزار و ۳۳۳) رأی نشان داده می شود؛ اما اطلاعاتی که نامزدان دیده می توانند (یک میلیون و ۷۹۱ هزار و ۷۰۳) رای را نشان می دهد.


محمد عبدالله، عضو کمیسیون مستقل انتخابات، در باره این نامه گفته است: «مبادله مکاتب یا ایمیل هایی که با درملوگ داریم، بالای تائید و تشخیص همین دو عدد است که عدد یک میلیون و ۷۹۱ هزار درست است یا یک میلیون و ۹۲۹ هزار و این تفاوت از روی چه است».

شرکت درملوگ در پاسخ به نامه کمیسیون انتخابات نوشته است که حساب نامزدان در بانک اطلاعاتی، برگه های نتایج هر محل را نشان می‌دهد و هنگامی که تمامی آرای بایومتریک شده این محل ها گردآوری شدند، (یک میلیون و ۷۹۱ هزار و ۷۰۳) رأی ثبت این بانک شدند.

در کنار آن، ۱۳۷ هزار و ٦۳۰ رأی بایومتریک شده دیگر در قرنطین استند.

## ژوند

## له اړتیا زیات ویټامین A مه اخلئ




دا سمه ده چې زموږ بدن ویټامین A ته اړتیا لري، خو ښه دا ده چې د اړتیا وړ ویټامین له سبو او مېوو څخه پوره کړو، هغه هم له سرو، زېړو او نارنجي مېوو څخه. هڅه وکړئ چې په خپل سر د ویټامین A ټابلېټونه ونه کاروئ، ځکه کېدای شي بدن مو ورته اړتیا ونه لري. په خپل سر د ویټامین A ګولۍ خوړل کولی شي د ځیګر لپاره نه جبرانېدونکی زیان پېښ کړي. له ډاکټر سره مشوره وکړئ، څو پوه شئ چې ایا بدن مو په رښتیا ویټامین A ته اړتیا لري او که نه. ښایي ډېرې وازګې د ځیګر په سلولونو کې ځای ونیسي او د ځیګر د غوړوالي لامل شي، چې دا خپله د ځیګر لویه ناروغي بلل کېږي. د وخت په تېرېدو سره کېدای شي ځیګر وپرسېږي، کلک شي او جوړښت ته یې زیان ورسېږي. ډاکټران دې ناروغۍ ته د ځیګر خوړینېدل وایي. د وزن زیاتوالی او په کوچنیوالي کې پر شکرې ناروغۍ اخته کېدل، د ځیګر خوړینوالي ته لار هواروي. سالم غذایي رژیم او ورزش کولی شي چې له دې ناروغۍ مو وژغوري.

## هیلو ته د رسېدو لپاره اوس هم پوره امکانات لری



ما ته خو مې خپل فکر وایي، همدا اوس چې څه په واک کې لرم، هیلو ته د رسېدو لپاره یې کافي بولم، خو که اړتیا ورته پیدا شي، خدای پاک به یې هرومرو په هماغه لحظه راکړي. کله چې له ستونزې سره مخ کېږی او ژوند ته مو ګواښ پېښېږي، د خدای پاک مرسته هرو مرو در رسېږي. که تاسې پر دې باور او ایمان ولری چې کله هم کوم شي ته اړتیا پیدا کړی، خدای پاک یې در رسوي، په سختیو کې مو لاس نیوی کوي، بیا مو دغه ډول ناهیلي کوونکي فکرونه ذهن ته نه راځي. کېدای شي ډېر کسان داسې فکر وکړي چې دا خو نو عادلانه نه ده، ولې خدای پاک ما ته هم د کار، شتمنۍ او پرمختګ موکه نه راکوي. پام چې پر خدای پاک مو ایمان او باور کمزوری نه شي. تاسې تر اوسه پورې دې کار ته تیار شوي نه یاست، خپله هڅه جاري وساتئ، کله چې خدای پاک پوه شي چې اړتیا ورته لری، په هماغه شېبه مو د هرڅه خښتن کوي. هېڅ اندېښنه مه کوئ، خدای پاک د هرڅه لیدونکی او څارونکی دی. ستاسې ټول ورځنی ژوند ورسره لیکل شوی دی، هغه پوهېږي چې په دې شېبه کې څه شي ته اړتیا لری.